







# Orientation to Ontario

# روغتیايي پاملرنه

## د اونټاریو د روغتیا بیمې پلان (OHIP)

OHIP د اونټاریو وړ اوسېدونکو ته د روغتیا پاملرنې پوښښ چمتو کوي. کله چې تاسو اړین اسناد ولرئ نو ژر ترژره باید د دې خدمتونو غوښتنه وکړئ. د درخواست کولو لهپاره تاسو اړ یئ چې د لاندې سندونو اصلي کاپی ولرئ:

- تابعیت / د کډوالی کارت یا کاغذ.
- په اونټاریو کې ستاسو د اوسېدو ثبوت.
- عکس او لاسلیک لرونکی پېژندکارت.

د لا زیاتو معلوماتو لهپاره ontario.ca یا findlink.at/OHIPcover ته مراجعه وکړئ.

د دې معلومولو لهپاره چې تاسو د OHIP د خدمتونو وړ یاست، لاندې لېنک وګورئ : ontario.ca یا findlink.at/ohip-info

تاسو کولی شئ د خدمت-اونټاریو په دفتر کې د OHIP خدمتونو غوښتنه وکړئ. د OHIP د نږدې دفتر د موندلو لهپاره 8097-267-800-1 ته زنګ ووهئ یا serviceontario.ca ته مراجعه وکړئ یا findlink.at/mto-office

د OHIP پوښښ تر لاسه کولو لهپاره تاسو باید اونټاریو ته تر رسېدو وروسته ۹۰ ورځې انتظار وکړئ. د دې انتظار په موده کې تاسو کولی شئ د ځینې محدود خدمتونو لهپاره د ټولنې روغتیايي مرکز ته لاسرسی ومومئ.

د ټولنې روغتیايي خدمتونو د نږدې مرکز موندلو لهپاره ontario.ca یا findlink.at/healthcare ته مراجعه وکړئ

پر دې د پوهېدو لهپاره چې OHIP روغتیا پاملرنې کوم لګښتونه پوښي، ontario.ca یا findlink.at/healthOn ته مراجعه وکړئ.

## د روغتیا پاملرنې خدمتونه

د کورنۍ ډاکټر موندلو لهپاره:

د 1822-445-800-1 د روغتیا پاملرنې سره اړیکه ونیسئ یا لاندې لېنکونه وګورئ ontario.ca یا findlink.at/hc-connect

په کالج کې د "ډاکټر لټون Doctor Search" وکاروئ

په cpso.on.ca کې د اونټاریو ډاکټرانو او جراحانو په اړه معلومات ومومئ.

د مېشتېدنې اداري د نږدې مرکز موندلو لهپاره د مېشتېدنې له مشاور، کورنۍ او ملګرو څخه پوښتنه وکړئ. یا settlement.org ته مراجعه وکړئ.

119 - په بېړني طبي حالت کې، 9-1-1 ډایل کړئ او د امبولانس غوښتنه وکړئ. د 911 خدمت یوازې د بېړنیو حالتونو للهپاره دی.

**د روغتون بیړنۍ خونه (ER)** – د فوري او جدي طبي او روغتیايي مسلو لهپاره ده. تاسو کولی شئ په خپله بیړنۍ خونې ته لاړ شئ یا تاسو کولی شئ د امبولانس لهپاره 9-1-1 ته زنګ ووهئ. که چیرې د روغتون ډاکټر داسې وګڼي چې دا بیړنۍ قضیه نه وه ممکن مصرف دربانديې راشي.

## واک ـ ان یا متحرک روغتیايي مرکزونه (معاینه خانې)

د طبي مسلو لهپاره چې سمدستي پاملرنې ته اړتیا لري مګر بیړني حالت نه وي، تاسو کولی شئ د واک ـ ان کلینیک ته لاړ شئ او پرته له وخت اخیستو ډاکټر وګورئ. تاسو ته نږدې کلینیک په ontario.ca یا findlink.at/hcoptions کې ومومئ.

Ontario Telehealth -د نرس څخه د طبي مشورې اخیستو لهپاره Telehealth Ontario ته په 0000-797-866-1 زنګ ووهئ. د ټیلی روغتیا نرسان په ورځ کې 24 ساعته، په اونۍ کې اوه ورځې موجود وي. مشوره په انګلیسي او فرانسوي ژبو وړاندې کیږي او په نورو ژبو هم ژباړل کېدای

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o

Funded by / Financé par

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

شي1-866-797-0007 :TTY.

## د رواني روغتيا خدمتونه

OHIP د رواني روغتيا ځينې خدمتونه پوښي. د ConnexOntario په اړه نور معلومات په connexontario.ca کې تر لاسه کړئ.

تاسو کولی شئ د اونټاریو دماغي روغتيا مرستې لاين ته په 1-866-531-2600 هم زنګ ووهئ يا mhsio.on.ca ته مراجعه وکړئ.

## د غاښونو د پاملرنې خدمتونه

OHIP د غاښونه د پاملرنې خدمتونه نه پوښي مګر ځينې پروګرامونه شته چې له 17 کلونو څخه کم عمر ماشومانو ته د غاښونو پاملرنې چمتو کوي:

د اونټاریو د روغتيا موسکا پروګرام لپاره لاندې شمېرې ته زنګ ووهئ 1-800-268-1153 يا ontario.ca او findlink.at/smiles-ont وګورئ.

د هغو ماشومانو لپاره چې درملنې ته اړتيا لري ontario.ca يا findlink.at/CINOT ته مراجعه وکړئ.

## د غاښونو ډاکټر موندلو لپاره:

- د اونټاریو د غاښونو اتحاديې خدمت وکاروئ او په youroralhealth.ca يا findlink.at/oralhealth کې "د غاښونو ډاکټر.
- وموميئ" settlement.org يا findlink.at/findentist ته مراجعه وکړئ.

## واکسين

د لويانو او ماشومانو لپاره د اونټاریو د واکسين کولو خدمتونو په اړه په ontario.ca يا findlink.at/immuneinfo کې معلومات ترلاسه کړئ.

د خپل محلي عامه روغتيا مرکز د موقعيت موندلو لپاره د اونټاریو خدمتونو ته په 1-866-532-3161 شمېره زنګ ووهئ يا ontario.ca او findlink.at/ph-units وګورئ.

## (OHIP PLUS) اوهيپ پلس - نوی!

**د 2018 کال د جنورۍ په 1 پيل کېږي، د 5,000 څخه ډېرو هغو کسانو ته به په وړيا توګه د دوا محصول ورکړې چې عمرونه يې ۲۴ کاله يا له دې کم وي.**

**د دې لپاره غوښتنليک ته اړتيا نشته. دا چې ځوان يا ماشوم د OHIP اوسنی کارت او د ډاکټر لخوا وړ نسخه لري، د درمل جوړونکي له لوري به په وړيا ډول درمل ورکول کېږي. د توزيع فيس به نه وي.**

**ايا پوهېدئ؟**

**تاسو بايد تل د بيړني حالت په صورت کې خپل د روغتيا کارت له ځان سره ولرئ.**



orientation to Ontario
l'ontario c'est chez moi